SHTAMANAI

د ماليې وزير!

هغه پانګوال چې په خپل هیواد کې پانګونه کوي؛ د هیواد د ابادۍ او بیارغونې ریښتیني اتلان دي، د ماليې وزارت د دوی قدر داني کوي او هڅه کوي چې خاص سهولتونه او امتیازونه ورته برابر کړي.

پنجشنبه | ۱۲ جمادی الثانی ۱۴۴۴/ ۱۵ جدی ۱۴۰۱ | ۵ جنوری ۲۰۲۲ | سال اول | شماره ۳۵ | ٤ صفحه



# ماليې وزارت د صنعت کارانو او سوداګرو مالي جريمې معاف کړې

## سرمقاله

### د صنعت او سوداګرۍ ملاتړ د ماليې وزارت لومړیتوب دئ

صنعت او سوداګري د هیوادونو د اقتصادي خوځښت څرخ او له دې لارې د دولتونو د ملي عوایدو را ټولېدو غني او لومړنۍ سرچینه ده. هغه هیوادونه چې د صنعت او سوداګرۍ ملاتړ کوي، اسانتیاوې ورته برابروي او اسانه او روښانه قوانین ورته جوړوي، په دې معنی چې د خپل هیواد اقتصاد ته انرژي ورکوي او د پیاوړتیا لپاره یې کوټلي ګامونه پورته او پرمخ کې پرتې ستونزې له منځه وړي. اسلامي امارت خاصتاً د ماليې وزارت د صنعت او سوداګرۍ په برخه کې د اسانتیاوو رامنځته کولو، اقتصادي ودې او د هیواد پرمختګ ته له ټولو ممکنو لارو کار اخلي او په دې برخه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي. همدا وو چې د ماليې وزارت له لوري پر سوداګرو او صنعت کارانو د ټولو مالي جرایمو د معافیت غونډه چې موخه یې د سوداګرو او صنعتکارانو څخه ملاتړ او دوی ته د اسانتیاوو برابرول وو د ارګ په سلام خانې مانۍ کې ترسره سوه. په دې غونډه کې د ماليې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري په ګډون نورو لوړ پوړو دولتي چارواکو، صنعت کارانو او سوداګرو ګډون کړی وو. د ماليې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري، د ماليې وزارت او اسلامي امارت په استازولۍ له سوداګرو او صنعت کارانو خپل ملاتړ څرګند کړ او دوی ته یې د هر راز مرستو او اسانتیاوو برابرولو ژمنه ورکړه. دوی پر سوداګرو او صنعت کارانو ږغ وکړ چې ملي بودیجه او د هیواد ځان بسیاینه ستاسو پرمټو پیاوړې کېږي نو اړینه ده، تر څو مالیات په رښه توګه راټول سي او په دې برخه کې سوداګر له فشار سره مخ نه سي او سره له دې چې د سوداګرو پرمخ ټولې دروازې پرانیستې دي، امنیت یې خوندي دئ، خو بیا هم د دوی لپاره لا ډېرو اسانتیاوو او امکاناتو برابرولو ته اړتیا ده. د ماليې وزارت مسؤلینو او سوداګرو پر سوداګرو او صنعتکارنو د مالي جرایمو د معافیت له امله د دې وزارت د رهبرۍ له هڅو څخه مننه وکړه او په وینا یې، چې د مالیاتي جرایمو معافیت د قانون د پلي کولو لپاره نه دئ، بلکې د سوداګرو لپاره د اسانتیا رامنځته کولو په موخه دئ؛ نو مالیه ورکوونکي هم باید خپله مالیه پر ټاکلې موده او سمه توګه ورکړي. ماليې وزارت د سوداګرو لپاره لازمي اسانتیاوې رامنځته کړي او که چېرته سوداګر وغواړي نو دغه وزارت به ورته کاري موده تر ۲۴ ساعتونو هم وغځوي او کومې جریمې چې له سوداګرو څخه په ګمرکونو کې اخیستل سوي، د مستوفیتونو په امانت حساب کې ټولې سوي، دا چې اوس جریمې معاف دي له اصولو سره سم به بیرته سوداګرو ته ورکړل سي. نو دغه معافیت باید د دې وسیله سي، تر څو ټول مالیه ورکوونکي مالیه پر خپل وخت ورکړي او ورسره د سوداګرۍ د ودې اړین فرصتونه برابر سي. له دغه اقدام څخه داسي برېښي چې د سیمې په کچه افغانستان یوازینی هیواد دئ چې د سوداګرو د اسانتیاوو په موخه یې ټول مالي جرایم معاف کړل، دا چې مالیات ولس ته د خدمتونو وړاندې کولو په موخه اخیستل کېږي او د همدې کمو مالیاتو په وسیله د هیواد اقتصادي خوځښت غښتلی کېږي. د سوداګرو او صنعت کارانو ملاتړ او د مالي جریمو معافیت د یو هیواد لپاره خورا مهم ارزښت لري او د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه له لوري د مالیاتي جرایمو معافیت ستر او د ستاینې وړ ګام دئ او هیله ده چې د هیواد ټول سوداګر هم د ماليې د ورکړې په برخه کې بشپړه همکاري وکړي. له اسلامي امارت څخه د ملي سوداګرو او صنعت کارانو ښه همکاري او پر وخت د ماليې ورکړې ځیني خصوصي شرکتونه د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوایدو لویو ریاستونو له لوري په ستاینلیکونو ونازول سول او دا ستاینه د دې ښکارندويي کوي، چې اسلامي امارت او په ځانګړې توګه د ماليې وزارت د غوره مالیه ورکوونکو ستاینه کوي او په ټوله کې د صنعت او سوداګرۍ سکټورونو ته د لا امکاناتو او اسانتیاوو برابرولو هوډ لري.

درنښت
اداره




ماليې وزارت د صنعت کارانو او سوداګرو مالي جریمې ور معاف کړې او هغه سوداګر او صنعت کاران یې وستایل چې د خپلو مالیو په ورکړه کې مخکښ او دولت ته یې پر ټاکلي وخت خپله مالیه ورکړې و.

د مالي جریمو د معافیت او سوداګرو او صنعت کارانو د ملاتړ غونډه چې د ارګ په سلام خانې مانۍ کې ترسره سوه د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر، د ریاست الوزرا اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د ماليې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري، د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي، د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي، د چارو اداري لوی رئیس شیخ نورالحق انور، د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج ملا محمد ناصر اخند، د یاد وزارت اداري مرستیال مولوي حمد الله زاهد، د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد، د صنعت او سوداګرۍ خونې مرستیال یونس مهمند، د افغانستان د صنایعو او کانونو خونې رئیس شیرباز کمین زاده، ملي سوداګر حاجي بشر نورزی او د یادو وزارتونو یو شمیر رئیسانو او ملي سوداګرو ګډون کړی وو. د ماليې وزیر په ګډون د اسلامي امارت ټولو لوړ پوړو مسؤلینو د مالي جریمو د معافیت په تړاو خبرې وکړې، سوداګر او صنعتکاران یې د هیواد د اقتصاد د خوځښت اتلان یاد کړل. دوی سوداګرو ته د لازمو اسانتیاوو د برابرولو ژمنه وکړه چې د جریمو معافیت یې ښه بېلګه وبلله او ټینګار یې وکړ، چې له سوداګرو سره به په مشورو د دوی ستونزو ته رسېدنه کوي او په ګډه به د هیواد د اقتصاد لپاره کار کوي. همدا راز مسؤلینو وویل، چې همدا مالیات دي، چې ملي بودیجه تمویلوي او ترڅنګ یې اړینه ده، تر څو مالیات په رښه توګه راټول سي او په دې برخه کې سوداګر له فشار سره مخ نه سي. د غونډې په پای کې ځینو خصوصي شرکتونو او مالیه ورکوونکو ته د اصولي فعالیتونو او پر وخت د ماليې ورکړې په ویاړ د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوایدو لویو ریاستونو له لوري ستاینلیکونه ورکړل سول او د دوی هڅو ته یې په بشپړ درناوي د لا همغږۍ او همکارۍ غوښتنه وکړه.

## پروسه ثبت و محصول موتر های یک کیلی در گمرک کابل سرعت یافته است



به منظور تسریع در پروسه ثبت و محصول موتر های یک کیلی (بدون اسناد) تفاهم نامه ای بین وزارت های مالیه، داخله، ترانسپورت و اداره استخبارات امضا گردیده که با آن در تمامی گمرکات به شمول گمرک کابل این پروسه نسبت به قبل سریعتر انجام می شود. در حال حاضر روزانه پروسه تخنیکی و گمرکی ۱۰۰ موتر بدون اسناد در گمرک کابل انجام می شود که با ثبت سایر موترهای بدون سند این ظرفیت افزایش خواهد یافت.

ریاست عمومی گمرکات از تمام مالکین موتر های بدون اسناد که تا اکنون موتر های خود را ثبت نه نموده اند، درخواست می کند که از این فرصت استفاده کرده و موتر های خود را هر چه سریعتر ثبت نام و مدارک قانونی برایشان دریافت نمایند. قابل ذکر است که در این پروسه، امارت اسلامی افغانستان تخفیف قابل ملاحظه را برای محصول موترهای بدون اسناد در نظر گرفته است که پس از پایان قابل تمدید نمی باشد. برای معلومات بیشتر با شماره ۲۲۱ به تماس شوید.

## د هرات ولایت په ګمرک کې ناقانونه وارداتي توکي ونیول سول

د هرات ولایت ګمرک د تشریح برخې زړورو مسؤلینو (۱۰۱ بوجۍ) پلاستیکي کڅوړې او تسبیح چې په ډېر مهارت په باروړونکي یخچالي موټر کې ځای پر ځای سوي وې، کشف او ونیولې. د یادو پلاستیکي کڅوړو ټول وزن ۱۸۱۸ کیلو ګرامه او د تسبیحو وزن چې ۸۳۲ کیلو ګرامه کېدئ، په ناقانونه توګه د قاچاق وړونکو له خوا له ګاونډي هیواد ایران څخه افغانستان ته واردېدل کشف او ضبط او په پېښه کې تورن کسان د قانون منګلو ته وسپارل سول. د یادوني ده، چې د تعرفې کمېټې د پرېکړې پر بنسټ د کورنیو تولیداتو د ملاتړ او چاپېریال ککړتیا د مخنیوي په موخه د پلاستیکي کڅوړو واردات بند سوي دي.

## د ننګرهار ګمرک کې د صادراتي توکو لپاره تله فعاله سوه

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست په لومړي ځل د ننګرهار په ګمرک کې د صادراتي توکو لپاره تله فعاله او ګټې اخیستنې ته وسپارله. یاده تله د صادراتي توکو دقیق وزن معلوموي چې له دې سره به د ملي عوایدو له ضایع کېدو او اضافه وزن څخه مخنیوی وسي. یاده تله ۲۲ متره اوږد والی لري، چې د ۱۵۰ ټنه وزن معلومولو وړتیا لري. د یادوني وړ ده چې پر یاده تله شاوخوا څلور میلیونه افغانۍ لګښت راغلی چې پیسې یې د ماليې وزارت له بودیجې څخه ورکړل سوي دي او کارونه یې د یو افغاني شرکت له لوري تر سره سوي دي.




د مالي جرايمو معافيت د صنعت او تجارت ملاتړ تر سرليک لاندې غونډه ترسره سوه

م ٤



تضمین ترانزیتی گمرکی کینو، مالته و سلفر زرد از ۱۱۰ درصد به ٦٠ درصد کاهش یافت

م ٣



غیر رسمي اقتصاد او د دولت په عایداتو یې اغیز

م ٢



Registration Process of Undocumented Vehicles Accelerates

م ٤



The Ministry of Finance Waived Tax Penalties of the Craftsmen and

م ٤

شتمني
SHTAMANAI



لیکنه : ماسترالعلوم بریالی «مومند»

## غير رسمي اقتصاد او د دولت په عايداتو يې اغيزيی

افغانستان يو داسې هيواد دی چې له ګڼو ټولنيزو ستونزو لکه امنيت، فساد، بې وزلۍ، بې روزګارۍ او داسې نورو سره لاس او ګريوان دی چې له امله يې مونږ وروسته پاتې ټولنه لرو، د ځمکې لاندې اقتصاد د ډېرو اقتصادي او ټولنيزو ناخوالو ريښه ده د مالياتو د تشې، اقتصادي ودې او ويش په برخه کې خورا مهم دی، د دولت عايد او سياسي تاثير هم د ځمکې لاندې اقتصاد دی چې مختلف تعريفونه لري لکه تور اقتصاد، غير رسمي اقتصاد، سيوري اقتصاد او غير منظم اقتصاد. فعاليت يا هغه پايلې چې د قانوني سوداګرۍ روښانه کول د دې سکټور فعالينو لپاره راوړي د قانوني چاروکو له ليد څخه لرې کيږي. غير رسمي اقتصاد د هغو فعاليتونو پر بنسټ ولاړ دی چې د مالي جريان ټول يا يوه برخه يې د ملي عايد په محاسبه کې نه شامليږي. «د توليد فعاليتونه چې د ملي احصايوي سيستمونو لخوا پوښل شوي ندي» يا ټول هغه فعاليتونه چې په عمومي توګه د مالياتو او وظيفو د ورکولو او د مختلفو مقرراتو څخه د مخنيوي لپاره ترسره کيږي. او غير رسمي اقتصاد چې په نورو مختلفو نومونو هم پيژندل کيږي لکه د ځمکې لاندې اقتصاد، سيوري اقتصاد، غير رسمي سکټور او پټ اقتصاد او ځينې وختونه د دې مفاهيمو د يو بل سره د مداخلې او د دقيق سرحدونو د نشتوالي له امله. د اجماع تعريف، دا د ډېر ابهام سبب ګرځي، په بحث شوي مسله کې دا ځانګړې ځای لري ځکه چې مونږ د هيواد اقتصاد له څو اړخونو څخه بحث کوو، غير رسمي اقتصاد او د دولت په عايداتو د هغې اغيزې ته هم اشاره کوو، لکه: د مالياتو بار، محدوديتونه، د بيو وده، بيکارۍ، ناسم اقتصادي سياستونه، فقر، انفلاسيون، د کار ناامني، مصرف، د کار بې ثباتی، د مخدره توکو قاچاق، د کار ناامني، د پيسو مينځلو، د انسان قاچاق او داسې نور معاينه کړي. غير رسمي يا د ځمکې لاندې اقتصاد د دولت او ټولنې په عايد باندې څه اغيزه لري؟ زه به هڅه وکړم چې د هغې اړخونه ګرانو لوستونکو ته څرګند کړم، غير رسمي اقتصاد يو داسې اقتصاد دی چې د دولت په عوايدو باندې ډيرې منفي اغيزې لري. د ځمکې لاندې اقتصاد په دوو برخو ويشل کيدی شي: جرمي اقتصاد او متخلفانه اقتصاد. د نشه يي توکو قاچاق، د وسلو قاچاق، سړې تښتوني، د مالي اهدافو په لرلو سره جرمونه او دغه ډول کړنې د جرمي اقتصاد برخه ده او د توکو قاچاق، د مالي اختلاس، کرايه اخيستل، رشوت اخيستل او داسې نور د متخلفانه اقتصاد برخه جوړوي. جرمي اقتصاد د اقتصادي اړيکو ګړندۍ وده د دولتونو له کنټرول څخه بهر په داسې ډګر کې، چيرې چې له يوې خوا د جرمي اقتصاد حيرانونکي حجم شتون لري چې په کال کې زره مليارد ډالر اټکل کيږي او له بلې خوا ډول ډول غيرقانوني اقتصادي فعاليتونه. د هيواد د ناخالص ملي توليد لږ تر لږه له لسو څخه تر پنځلس سلنې پورې او په خورا بد حالت کې د دې توليد تر ۸۵ سلنې پورې د دې پاليسيو پايله ده. د غير رسمي فعاليتونو طبقه بندي: د ځمکې لاندې توليد، د غير رسمي سکټور توليد، کورني توليد. د غير رسمي اقتصاد عوامل: د مالياتو بار، د سوداګرۍ محدوديتونه، د مصرفي توکو د بيو لوړوالی، بيکاري، د پورتنيو دليلونو په خير، د غير شفافو فعاليتونو لپاره د دولت د نه ملاتړ، ناسم اقتصادي سياستونه، ټولنيز او کلتوري محدوديتونه چې د دولت لخوا وضع شوي. د خلکو په ورځني ژوند کې حکومت، جنسيتي تبعيض او د ښځو د غير رسمي کارونو مخ په زياتيدونکې، د حکومت کمزورې څارنې او کنټرول بنسټونه، د نفوس زياتوالی، بې توپيره کډوالي، انفلاسيون، فقر، د ټولنې وروسته پاتې والی او په دې برخه کې د حکومت د پلان نشتوالی.

## متن سخنرانی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء در جلسه معافیت جرایم مالی و حمایت از صنعت و تجارت

از همه اولتر حضار محترم، قاعدین امارت اسلامی، تاجران ملی، صنعت کاران و وطنداران عزیز اسلام علیکم ورحمت الله و برکات. جا دار که از مسئولین و دست اندرکاران وزارت محترم مالیه، بخصوص جناب وزیر صاحب مالیه بخاطر تدویر این مجلس پر شکوه تشکری نمایم. جای خوشحالی است که امروز جریمه های که برای تاجران و صنعت کاران ملی وضع شده بود از طرف امارت اسلامی افغانستان معاف شده است.

در آینده این مسئولیت اخلاقی همه ما و شما است مالیه که از طرف وزارت مالیه وضع می شود به شکل شفاف و در وقت معین آن پرداخت شود، تا این باعث نشود که همه در برابر قانون و اصول بی تفاوت شویم، مثلاً مالیه که باید در یک ماه ادا شود آن را ما در سه ماه ادا نکنیم و یا مالیه که باید در سه ماه ادا شود آن را در شش ماه ادا کنیم. معافیت مالیه برای سهولت در تطبیق قانون نیست؛ بلکه بخاطر سهولت برای تجار، وصنعت کاران ملی می باشد در صورتی کسی از تطبیق قانون یا از ادای مالیه بر وقت سرپیچی کند در آن صورت مطابق به اصول اسلامی برخورد صورت میگیرد. وطنداران عزیز، مالیه که از شما اخذ می گردد معلوم دار است که در کجا به مصرف میرسد. میداند که مصارف عامه از طرف کدام ارگان خارجی اجرا نمی شود همه از عواید داخلی خود ما و شما تامین میگردد. پرداخت مالیات به شکل شفاف و اصولی آن مسئولیت اسلامی هر افغان است.

مسئولین امارت اسلامی افغانستان در تلاش است تا چه گونه مشکلات که فرار راه تجار، صنعت کاران و وطندارن عزیز ما قرار دارد بردارد.

در این شکی نیست که همه مشکلات ها یک شبه حل نمی شود برای حل آن تمام مسئولین سعی و تلاش خود را انجام میدهد تا مشکلات که فراراه صنعت وتجارت قرار دارد بردارد.

**از توجه شما سپاس گزارم**

## د مالي جريمو معافيت د صنعت او تجارت ملاتړ غونډې ته د ماليې وزير الحاج ملا هدايت الله بدري وينا

د افغانستان اسلامي امارت درنو مشرانو، د کابينې محترمو غړو، محترمو رئيسانو، د خصوصي سکتور استازو، د هيواد اقتصادي کارپوهانو، ملي سوداګرو، صنعت کارانو، د دولتي ادارو کارکوونکو، د رسنيو محترمو استازو او درنو حاضرينو؛ السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

خوشحاله يم چې د ماليې وزارت په استازيتوب د ملي سوداګرو، صنعت کارانو او په ټوله کې خصوصي سکټور ته د دې وزارت له لوري د اسانه تګلارو او سهولتونو رامنځته کولو په ناسته کې ګډون کوم. خدای دې وکړي چې زموږ دا ناسته د دې ځوربدلي ملت د هوساينې او د اسلامي امارت د اقتصادي استحکام سبب او په مجموع کې د الله تعالی په دربار کې قبوله او مقبوله وګرځي.

**محترمو صنعت کارانو اوسوداګرو!**

د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه او مسئولينو تل هڅه کړې، چې د هيواد د اقتصادي وضعيت د ښه کېدو له پاره صنعت کارانو او تجارانو ته سهولتونه ايجاد کړي، د دوی ملاتړ وکړي او تر شاه ئې کلک ودرېږي، چې د نن ورځې دا روان مجلس ئې يو ښه مثال دئ. درنو حاضرينو! د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري د ټولو ماليه ورکونکو د مخکنيو او في الحال مالي جريمو معافيت يو داسې ګام دئ، چې ساری ئې تر اوسه په سيمه کې نه ليدل کيږي، همدارنګه په تېرو۱۵ مياشتو کې چې د ګمرکونو رياست کومې جريمې په امانت حساب کې اخستي دي، خپلو خاوندانو ته بيرته سپارل ئې او د دې تر څنګ د رښتيني او مخلصو صنعت کارانو او تجارانو ستاينه او منڼه د افغانستان اسلامي امارت د سپېڅلتيا او شفافيت ښکاره مثالونه دي. د ماليې وزارت اړوند ټيمونه هڅه کوي، له صنعت کارانو او سوداګرو سره په ګډه هغه ستونزې حل کړي، چې د صنعت او پانګونې مخه نيسي. هغه پانګوال چې په خپل هيواد کې پانګونه کوي؛ د هيواد د ابادۍ او بيارغوني ريښتني اتلان دي، د ماليې وزارت د دوی قدر داني کوي او هڅه کوي چې خاص سهولتونه او امتيازونه ورته برابر کړي. په اخر کې د هيواد پر ټولو صنعت کارانو او تاجرانو بږغ کوو چې، راسئ يوه او بل ته د هيواد د پرمختګ او ښو سهولتونو زمينه برابره کړو او يو ودان افغانستان ولرو.

**له پاملرنې څخه مو مننه**

## د مالي جريمو معافيت د صنعت او تجارت ملاتړ غونډې ته د عوايدو لوی رياست عملياتي مرستيال معراج محمد معراج وينا

د اسلامي امارت د قدر وړ مشرانو، علماء کرامو، ماليه ورکوونکو، د شرکتونو ټولو محترمو مالکينو، استازو او د غونډې ټولو ګډونوالو! السلام عليکم ورحمه الله وبرکاته

مشرانو تفصيلي خبري وکړې، نو خبره څرګنده ده، چې زموږ او ستاسو راټولېدل او تاسو ته تکليف درکول د ځانګړي موضوع له پاره دي، چې هغه د اقتصاد په تاريخ کې يو داسې ګام دئ، چې ډېر پرمختللي هيوادونه هم د دې موضوع تصور نه سي کولای چې هغوی دې مالياتي جرايم معاف کړي او يا د دولت په سطحه ټول مالياتي جرايم معاف کړي دي؛ خو الحمد لله، د الله (ج) نه ډېر شکرګذاره يو چې دغه نظام چې کوم جوړ سوی دئ، د شريعت، قرآن او حديث پر اساس اسلامي نظام دی او دلته الحمدلله داسې يوه غټه پرېکړه چې يقيناً د مشرتابه قدر وسي، بيا هم کمه ده؛ په دې چې اقتصادي نظامونو کې د مالياتو ورکړه په جرايمو پورې تړلې موضوع ده، خو الحمدلله چې موږ او تاسو چې نن راټول سوي يو، مالياتي جرايم په بشپړ ډول معاف سوي دي. د اسلامي امارت نظام له واکمنېدو راپه دې خوا په ټولو مالياتي سيستمونو کې يوه افغانۍ جريمه هم نه ده اخيستل سوې او کومې جريمې چې پخوا وضع سوي وې، له دې وروسته به نه اخيستل کيږي. کوم شرکتونه چې جرايمو کې واقع سوي وو او هغوی په خپل وخت سره خپل ماليات نه دي ورکړي، نو له هغوی څخه به هم له دې وروسته جرايم نه اخيستل کيږي، خو د دې مقصد دا نه دئ، چې له دې وروسته به احکام نه پلي کيږي. موږ هم غواړو چې زمونږ ولس اطاعت منونکی سي او پر خپل وخت سره خپله ماليه ورکړي، د جرايمو دغه معافيت بايد د دې سبب نه سي چې زموږ د هيواد سوداګر په خپل وخت سره خپله ماليه ورنه کړي. دغه تصميم د هيواد د سوداګردو د هڅوني په ملاتړ، اقتصادي ودې او پرمختګ له پاره نيول سوی دئ. د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست له ټولو سوداګرو هيله کوي چې د ماليې په ورکړې سره د اسلامي نظام ملاتړ وکړي، د اسلامي اقتصادي نظام د بډاينې او د بيت المال د ملاتړ له پاره بايد خپله ماليه او جريمې پر وخت سره ورکړي. بله موخه دا ده، ماليه ورکوونکي چې خپله ماليه په خپل وخت سره ورکوي، له يوې خوا د اسلامي نظام سره د همکارۍ هلې ځلې دي او له بلې خوا د عوايدو لوی رياست ماليه ورکوونکيو ته له هغوی څخه د منني او هڅوني له پاره د عوايدو لوی رياست له خوا ستاينليکونه ورکول کيږي. د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست هڅه کوي چې د ماليه ورکوونکو د هڅوني په پار دغه بهير ته دوام ورکړي. د افغانستان اسلامي امارت له واکمنېدو راپه دې خوا د ماليې په ورکړه کې خورا مثبت بدلون راغلی او دا مهال د نړۍ نورو هيوادونو په پرتله ښه ماليه لري.

ماليه يوه اسلامي او ايماني وجيبه ده، نو په کار ده چې دغه احساس په ټولو کې پيدا سي. که ملت حکومت ته په ښه طريقه او خپل وخت سره ماليه ورکړي، نو په دغه برخه کې به نور پرمختګ وسي او د دنيا ته به له محتاجۍ څخه خلاص کړو. د ماليې ورکړه يو ټولنيز او ملي مسؤليت دئ؛ په دې برخه کې سرغړونه، کموالی او ځنډ عامه چوپړتياوې متأثره کوي چې له ډلې يې روغتيايي، تعليمي او تحصيلي، اقتصادي ودې او د بازار راکړه ورکړه، پرمختيايي خدمتونه، عامه رفاه او ورته مسايل دي؛ نو پر همدې بنسټ ماليه د پرمختګ، اقتصادي ودې او زېربنا جوړوني له پاره يو اړين عنصر دئ. د افغانستان اسلامي امارت د ماليې جريمې معاف کړې، نو له خلکو، سوداګرو او په ټوله کې ماليه ورکوونکو څخه هيله کيږي چې په خپل وخت سره ماليه ورکړي. د دې سربېره هغه ماليه ورکوونکي چې لا تر اوسه د ماليې ورکړې پروسې، سيستم، عملياتي محاسبې او لازمو اسانتياوو سره نه دي اشنا سوي، غوښتنه کيږي چې خپل ځان يا خپل نور مسلکي کدرونه يا کارکوونکي له دې پروسې سره اشنا کړي. د ماليې او عوايدو په اړه کولای سئ چې د عوايدو لوی رياست له انټرنېټي، يوټيوب او فېسبوک پاڼو څخه ليدنه وکړئ او کولای سئ چې په اړه يې اړين معلومات تر لاسه کړئ. د دې سربېره د ماليه ورکوونکيو د خدمتونو رياست هڅه کوي، په پرلپسې توګه ماليه ورکوونکو ته د عامه پوهاوي پروګرام پر لاره اچوي، څو هغوی د مالياتو اړوند مکلفيتونو په اړه معلومات تر لاسه کړي. کوم کسان چې د ماليې په ورکړه کې ستونزه لري، کولای سي، د عوايدو لوی رياست مالياتي محاسبينو ته مراجعه وکړي څو شعوراً او سهواً د بيت المال حق ضايع نه سي. د دې سربېره که د مالياتو ورکړې په برخه کې کومې ستونزې رامنځته کيږي، د عوايدو لوی رياست د شکايتونو اورېدلو او د شخړو حل بورډ لرو چې د عوايدو لوی رياست دروازې د هر سوداګر پر مخ پرانيستې دي. د عوايدو لوی رياست کومې ناستې چې له سوداګرو سره تر سره کړې دي، ښې پايلې ته رسېدلې دي. ياد رياست هڅه کوي چې هرې ستونزې ته پر خپل وخت سره رسېدنه وکړي. لکه څه رنګه چې د ماليې ورکړه د هر فرد مسؤليت دئ، د مالياتو ورکړې په سيستم کې بشپړه روڼتيا رامنځته سوې چې له مخې يې د پيسو راټولونه برېښنايي سوې ده. د اميرالمؤمنين فرمان له مخې هيڅ څوک حق نه لري چې يوه افغانۍ له چا نغده تر لاسه کړي، بلکې د يوه منظم سيستم له مخې به د هيواد عوايدو ته جمع کيږي. ماليه ورکوونکي د مالياتي نصرت په ښه توګه اداء کولو سره د افغانستان د عامه وګړو په هوساينه او خپل هيواد په ځان بسيا کولو کې مهم رول لوبوي؛ نو له همدې امله راځئ چې په پوره غور سره د خپل هيواد په رغولو کې ونډه واخلو او خپل هيواد د وګړو په ژوند کې مثبت بدلون راولو. اسلامي امارت د افغان ملت له پاره هوساينې له پاره پوره هڅې کوي، نو له همدې امله له ماليه ورکوونکو څخه هيله کيږي چې په خپل وخت ماليه ورکړي.

شتمنی SHTAMANAI

# د مالي جريمو معافيت د صنعت او تجارت ملاتړ غونډې ته د رياست الوزرا اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر وينا

د افغانستان اسلامي امارت مشرانو، مسؤلينو او محترمو تجارانو او صنعت کارانو او د غونډې ټولو ګډونوالو او ټولو ته اسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته! اميد لرم چې ټول به له ښه صحت څخه برخمن ياست او ټولي ورځنۍ چاري به مو په ښه توګه مخ ته رواني وي. لکه څنګه چې پوهېږو ماليات د يوه هيواد د ملي عوايدو په تامين کي خورا مهم رول لري. همدا ماليات دي چې د هيوادونو ملي بوديجه جوړوي او د ولسونو امنيت، عامه خدمتونه او هوساينه تضمينوي. په اوسنيو شرايطو کي د افغانستان ملي بوديجه مطلق له داخلي عوايدو برابريږي نو دا زموږ او ستاسو د ماليې وزارت ضمه داري ده، چې د مالياتو په راټولولو کي شفافيت رامنځته کړي، داسي شفافيت چې نه د امارت عوايد ورك سي او نه هم پر صنعت کارانو او سوداګرو بې ځايه بوجونه تحميل سي. وعدې او خبرې خو هره ورځ سره کوو، بايد په هغه څه عمل وکړو چې څه وايوو. بايد سره کېنو ښه مجلس سره وکړو، خو چې ولاړ سو متآسفانه مسؤلين په خپله وعده وفا نه کوي او هم د تجارانو او صنعت کارانو صرف هغه مجلس غرض وي نور بيا په مياشتو ورك وي. نو زما مطلب دادئ، چې په کوم ځای کي يو مجلس داير سي بايد د هغه مجلس د اخلاص او د عمل په ډګر کي هغه خبرو ته د عمل جامه ور واغوستل سي، صرف يو بل به نه سره خطا باسو. دا به ژمنه کوو، ځکه دا د پنځه ځلويښت ميليونه افغانانو مسؤليت د اسلامي امارت پر غاړه دئ. اسلامي امارت د افغانستان د سوداګرو، صنعت کارانو او پانګوالو د عزت، حيثيت او د سر او مال ساتنه يې ضمه داري ده.

د افغانستان د اسلامي امارت مسؤلين نه کومه شتمني لري او نه کومه سرمايه لري، د هغه سرمايه ستاسو تجارانو او صنعت کارانو سرمايه ده، چې ملك او د افغانستان اسلامي امارت به پر چلېږي. دا چې په شفافه توګه تجاران خپلي ماليې ته ژمن سي او صنعت کاران چې په خپله صنعت کارۍ کي څه توليدوي، پر هغو باندي شفافه ماليه و خپل د افغانستان اسلامي امارت مسؤلينو ته چې نن يې د ماليې وزارت په راس کي دئ ورکړي. د دې سره - سره چې مالياتي معافيت او اوس مهال زموږ يو بحث دئ، د يادولو ده چې د ماليې وزارت له خوا پنځه کلني اودرې کلني بررسۍ او له دې سره هم مهاله د جوازونو د تمديد مسئلي هم سوداګر سخت په تنګ کړي دي او د پنځه کلني او درې کلني بررسي له ويري په بهر کي پراته سوداګر جرئت نه کوي، چې هيواد ته راسي د جوازونو د تمديد د جنجال له امله ځينو تجارانو خپل جوازونه د خپلو دفترونو الماريو کي ايښي دي او هر درې کاله وروسته د خپلوانو په نامه نوي جوازونه جوړوي، ځيني سوداګر وايي چې موږ د مالياتو ورکړي ته ژمنه يوو، خو دوی غوښتنه کوي چې زموږ مالياتي تصفيې دي يو کلنۍ سي ولس بايد په هيڅ صورت له خپلو هيڅ ډول حاکه، مسلمه او ثابتو حقوقو څخه محروم نه کړل سي. په دې اړه مو د ماليې له وزارت څخه غوښتنه ده، چې د يادو ستونزو لپاره يوه اساسي حل لاره او خپل اجرايي ميکانيزم جوړ او د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي کمېسيون ته يې وړاندي کړي؛ ترڅو د يادو ستونزو د رفعه کولو لپاره په لوړه کچه تصميم ونيول سي. الحمدلله نن ورځ که وګورو اول خو ټوله دروازې د ټولو صنعت کارانو او سوداګرو پرمخ خلاصي دي، که کومه ستونزه ولري هري اداري، رياست او وزارت ته چې مراجعه وکړي، خپله ستونزه حلولای سي. خصوصا چې موږ ته مراجعه وکړي، موږ يې په هغه ساعت د دوی ستونزه حلوو او موږ خپل وس ورسره کړئ دئ، حتی داسي هم پيښه سوې ده، چې ما ته وويل سول چې پلانکی ځای کي زموږ يو تاجر اختطاف سوی دئ ما په هغه مجلس کي خبره کړې ده او بيا مي د هغه د خلاصونه جدي اقدام کړئ دئ. موږ دوی ته متوجه يوو، هر هغه څوك په ځانګړي توګه صنعت کاران او تجاران چې په افغانستان کي پانګونه لري، موږ د دوی عزت، مال و سره ته د حفاظت په توګه ژمن يوو، دا زموږ ضمه داري ده چې موږ به د دغو خلکو په عام تور د ټول افغانستان امنيت ساتنه خپل مسئوليت وګڼو، خاصتآ د صنعت کارانو او تجارانو چې د افغانستان اقتصاد په دوی پوري اړه لري موږ د دوی هر قسم امنيت، مال او د سر ساتني او د عزت ساتني ته يې ژمن يوو دا زموږ ضمه داری ده او موږ پر ځان قبله کړې ده.

د افغانستان اسلامي امارت سوداګرو او صنعت کارانو ته ډاډ ورکوم، چې د اسلامي امارت تر خپله وسه هڅه کوي، چې ستاسو ستونزو ته اساسي حل لاري پيدا کړي او تجارتي فعاليتونه مو اسانه کړي. انشاالله دا ډاډ درکوو، که څه هم ستونزي خو ډېري سته ښه سره پوهېږو، خو بيا هم موږ خپل ټول وس او توان له تاسو سره شريکوو.

## د مالي جرايمو معافيت د صنعت او تجارت ملاتړ غونډې ته د ګمرکونو لوی رئيس مفتي عبدالمتين سعيد وينا

د هر څه نه مخکي ټولو مشرانو، ملي تجارانو، ليدونکو، اورېدونکو ته تحفه نبوي، چې عبارت ده له السلام عليکم ورحمته الله وبرکاته څخه وړاندي کوم ـ و بعد خوښ يم لله الحمد چي په داسي مجلس کي ګډون او خبري کوم چي هغو ملي تجارانو چي د اسلامي امارت تر حاکميت وروسته ئې شفاف، صادقانه او مخلصانه تجارت کړی، د ماليې وزارت له لوري د دوی ستاينه کيږي.

**محترمو حضارو!**

دګمرکاتو عمومي رياست په استازيتوب د ټولو هغو تجارانو څخه چي مخلصانه، صادقانه يې محصول ورکړی، په شفاف طريقه باندي وصول تطبيق کړی، ملي عوايدو کي ئې زياته ونډه اخستې، په هيواد کي د توکو دکمښت مخنيوی يې کړی، زيات صادرات او واردات يې کړي، د مجلس يوه برخه د دوی پيژندنه ده، د دوی نه مننه کوو په اينده کي تر بې هم غواړو او د نورو تجارانو څخه هم غواړو د دوی په خير په شفافيت، صداقت او مخلصانه توګه باندي محصول ورکړي.

محترمو موږ په ګمرکاتو کي لله الحمد زيات سهولتونه ايجاد کړي، فساد مو لمنځه وړی لله الحمد د امارت اسلامي تر حاکميت وروسته هر څوك چي د ملت او د نظام په منځ کي فاصله راولي دا مو د صف څخه ايستلي او پر ځای مو صادق مخلص او امين کسان مقرر کړي او موږ په ګمرکاتو کي لله الحمد د سهولت لپاره کاري وخت زيات کړی، چي د تجارانو صادرات او واردات په ښه طريقه باندي وسي، ۵۰۰ پروسونل مو زيات کړی، کاري وخت ۲۴ ساعته هم لرو، ۱۲ ساعته هم لرو، ۱٦ساعته هم لرو، حتی که د هيواد په غټو ګمرکاتو کي ملي تجاران وغواړي، چي ګمرکات ۲۴ساعته سي موږ حاضر يو چي له نن څخه ټول غټ ګمرکات ۲۴ساعته کړو، موږ په ګمرکاتو کي د قيمت ګذارۍ په بخش کي چي د بعضو اجناسو لپاره د تخلف او د خيانت په هدف مختلف کوډونه ايجاد سوي وو، دا مو ټول له منځه وړي يو کوډ مو ورته جوړ کړی، چي د تجارانو لپاره زيات سهولت رامنځته سوی، موږ د ترانزيټ په بخش کي زيات سهولتونه ايجاد کړي کومه موده چي مبداء او مقصد ګمرکونو په منځ کي ټاکل سوې وه، هغه موده مو له ۵ ورځو څخه ۱۰ ورځو ته زياته کړه که دا مشکل نه وي حل سوی نور هم دا موده د مشرتابه د هدايت په اساس زياتوالی سو.

محترمو د مجلس يو برخه د جرايمو معافيت موضوع ده. د محترم عاليقدر اميرالمومنين شيخ الحديث والتفسير حضرت مولانا هيبت الله اخنذاده صاحب له طرفه څخه چي جرايم معاف سوي دي، موږ د امارت اسلامي له حاکميت څخه وروسته په ګمرکاتو کي چي کومي جريمې اخيستي دا مو په مستوفيتونو کي په امانت اکونټ کي ايښي دي، ټولي امانت پرتې دي، ټول هيوادوال چي له دوی نه جريمې اخيستل سوي دي د اصولو مطابق دي خپلې جريمې واخلي.

## تضمين ترانزيتی گمرکی کينو، مالته و سلفر زرد از ۱۱۰ درصد به ٦۰ درصد کاهش يافت





به درخواست تجار، با پيشنهاد رهبری رياست عمومی گمرکات و منظوری وزارت ماليه، تضمين ترانزيتی گمرکی کينو، مالته و سلفر زرد از ۱۱۰ درصد به ٦۰ درصد کاهش يافت. اين که در حال حاضر اين سه مواد ترانزيتی بخش بزرگی از ترانزيت خارجی از راه افغانستان را تشکيل می دهند، رياست عمومی گمرکات تصميم گرفت تا تضمين ترانزيتی گمرکی اين اموال را به منظور تسهيل برای تجار کاهش دهد. همچنان رياست عمومی گمرکات به تمام گمرکات مربوطه هدايت داده است تا در ترانزيت خارجی اين اموال در اولويت قرار داده شود. قابل ذکر است، در صورت تخلف هر تاجری از قانون ترانزيت در اين سه اموال ترانزيتی؛ اموال وی طبق طرزالعمل ترانزيت خارجی مشمول ۱۱۰ درصد دين گمرکی می شود.


# اعلانات داوطلبی

### اعلان دکاکين برج شهرارا

رياست املاک دولتی وزارت ماليه بتعداد ٦ باب دکاکين بمساحت های مختلف طور جداگانه واقع برج شهرآرا واقع برج شهرآرا ناحيه ٤ ولايت کابل را به شکل آفر سر بسته به اعلان داوطلبی می سپارد. اشخاص حقيقی و حکمی که خواهان به کرايه گرفتن جايداد های فوق را داشته باشند در خواستی های شان را سر از تاريخ ۲۹ قوس الی مدت (۲۱) يوم به رياست محترم عمومی املاک دولتی واقع منزل چهارم تعمير ۱۴منزله سينما پاميرتسليم نموده، همچنان شرطنامه را در بدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمايند

### اعلان يکباب کانتين

رياست املاک دولتی وزارت ماليه يکباب کانتين بمساحت ۱۲ مترمربع واقع داخل محوطه شفاخانه ۱۰۰ بستر دشت برچی را بشکل آفربسته به اعلان داوطلبی می سپارد . اشخاص حقيقی و حکمی که خواهان به کرايه گرفتن جايداد های فوق را داشته باشند، در خواستی های شان را بعد سرا تاريخ ۲۹ قوس الی مدت (۲۱) يوم به رياست محترم عمومی املاک دولتی واقع منزل چهارم تعمير ۱۴منزله سينما پامير، تسليم نموده، همچنان شرطنامه را در بدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمايند .

### اعلان سپردن يکباب هنگر

رياست املاک دولتی وزارت ماليه يکباب هنگر بمساحت ۱٤۸۷,۲۲ مترمربع واقع داخل محوطه فابريکه نساجی بگرامی ناحيه ۱٦ ولايت کابل را به شکل آفر سر بسته به اعلان داوطلبی می سپارد. اشخاص حقيقی و حکمی که خواهان به کرايه گرفتن جايداد های فوق را داشته باشند در خواستی های شان را سر از تاريخ ۲۹ جدی الی مدت (۲۱) يوم به رياست محترم عمومی املاک دولتی واقع منزل چهارم تعمير ۱۴منزله سينما پاميرتسليم نموده، همچنان شرطنامه را در بدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمايند

### اعلان سپردن ۳ جايداد نساجی بگرامی

رياست عمومی املاک دولتی وزارت ماليه جايداد های ذيل را به شکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپار.

۱. موازی (٦۰۰) متر مربع زمين واقع ديوار حريم شرقی نساجی بگرامی ناحيه ۱٦ ولايت کابل

۲. موازی (٦۰۰) مترمربع زمين واقع ديوار حريم شرقی نساجی بگرامی ناحيه ۱٦ ولايت کابل


۳. موازی (۳۰۰) متر مربع زمين واقع ديوار حريم شرقی نساجی بگرامی ناحيه ۱٦ ولايت کابل

اشخاص حقيقی و حکمی که خواهان به کرايه گرفتن جايداد های فوق را داشته باشند در خواستی های شان را سر از تاريخ ۱۰ جدی الی مدت (۲۱) يوم به رياست محترم عمومی املاک دولتی واقع منزل چهارم تعمير ۱۴منزله سينما پاميرتسليم نموده، همچنان شرطنامه را در بدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمايند

**د امتیاز خاوند:** د مالیې وزارت
**مسؤل مدیر:** احمد ولي حقمل
**مرستیال:** محمد نبي سلطاني
**کتنپلاوي:** ندا محمد صدیقي ، عبدالرحمن سجاد ،مولوي عبدالرازق متقي ، ابراهیم ګران او اجمل زاهد
**د خبر مدیر:** داود نظري
**خبریال:** سید مصطفی سروش

**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**عکاس:** فضل احمد یوسفزی
**ډیزاینر:** محمد نسیم ظهوري
**ویبپاڼه:** mof.gov.a
**ټویټر:** afghanistanmof@
**یوټیوب:** afghanistan mof
**شمېره :** ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)





# د مالي جرایمو معافیت د صنعت او تجارت ملاتړ تر سرلیک لاندي غونډه ترسره سوه

د مالیې وزارت لـه لـوري پـر سـوداګرو او صنعت کارانـو د ټولـو مـالي جرایمـو د معافیـت غونـډه چـي موخـه یـې سـوداګرو او صنعتکارانـو څخـه ملاتـړ او دوی تـه د اسـانتیاوو برابـرول وو د ارګ پـه سـلام خانـي ماڼـۍ کـي تـرسره سـوه پـه دغـه غونـډه کـي د افغانسـتان اسـلامي امـارت د ریاسـت الـوزرا اقتصـادي مرسـتیال مـلا عبدالغنـي بـرادر اخنـد ، د ریاسـت الـوزرا اداري مرسـتیال مولـوي عبدالسـلام حنفـي ، د مالیـې وزیـر الحـاج مـلا هدایـت اللـه بـدري ، د بهرنیـو چـارو وزیـر مولـوي امیـر خـان متقـي ، د صنعـت او سـوداګرۍ وزیـر نورالدیـن عزیـزي ، د چـارو اداري لـوی رئیـس شـیخ نورالحـق انـور ، د مالیـې وزارت د ګمرکونـو او عوایـدو معیـن الحـاج مـلا محمـد نـاصر اخنـد ، د یـاد وزارت اداري مرسـتیال مولـوي حمـد اللـه زاهـد ، د اسـلامي امـارت ویانـد ذبیـح اللـه مجاهـد ، د صنعـت او سـوداګرۍ خونـې مرسـتیال یونـس مهمنـد ، د افغانسـتان د صنایعو او کانونـو خـوني رئیـس شیرباز کمیـن زاده ، مـلي سـوداګر حاجـي بـشر نـورزی او د یـادو وزارتونـو یـو شـمیر رئیسـانو او مـلي سـوداګرو ګـډون کـړی وو.
پـه پیـل کـي د مالیـې وزیـر خـبري وکـړې سـوداګر او صنعتـکاران یـې د هیـواد د اقتصـاد اتـلان یـاد کـړل ، وې ویـل ، چـي سـوداګرو تـه د لازمـو اسـانتیاوو د برابرولـو پـه برخـه کـي بـه خپـل مسـؤلیتونه ادا کـوي ، چـي نننـۍ د جرایمـو د معافیـت غونـډه یـې ښـه بیلګـه ده. ښـاغلي بـدري وویـل ، چـي لـه سـوداګرو سره بـه پـه مشـورو د دوي سـتونزو تـه رسـېدنه کـوي او پـه ګـډه بـه د هیـواد د اقتصـاد لپـاره کار کـوي.
د ریاسـت الـوزرا اقتصـادي مرسـتیال مـلا عبدالغنـي بـرادر وویـل : همـدا مالیـات دي ، چـي مـلي بودیجـه تمویلـوي ، نـو اړینـه ده ، تـر څـو مالیـات پـه رڼـه توګـه راټـول سي او پـه دې برخـه کـي سـوداګر لـه فشـار سره مـخ نـه سي نومـوړي زیاتـه کـړه ؛ سره لـه دې چـي د سـوداګرو پرمـخ ټـولي دروازې خـلاصي دي ، امنیـت یـې خونـدي دی ، خـو بیـا هـم د دوی لپـاره لا ډېـرو اسـانتیاوو برابرولـو اړتیـا ده.
د ریاسـت الـوزرا اداري مرسـتیال مولـوي عبدالسـلام حنفـي پـر سـوداګرو او صنعتکارنـو د مالیـاتي جرایمـو د معافیـت




لـه املـه د مالیـې وزارت د رهـبرۍ لـه هڅـو څخـه مننـه وکـړه او زیاتـه یـې کـړه ، چـي د مالیـاتي جرایمـو معافیـت د قانـون د پـلي کولـو لپـاره نـه دئ ، بلکـي د سـوداګرو لپـاره د اسـانتیا رامنځتـه کولـو پـه موخـه دئ ؛ نـو مالیـه ورکوونکـي هـم بایـد خپلـه مالیـه پـر ټـاکل سـوي وخـت پـه سـمه توګـه ورکـړي.
د ګمرکونـو لـوی رئیـس مفتـي عبدالمتیـن سـعید وویـل : خـوښ یـم چـي د هغـو سـوداګرو د هڅـوني پـه غونـډه کـي برخـه لـرم ، کـوم چـي مالیـه یـې پـه خپـل وخـت تحویـل کـړې ده. نومـوړي زیاتـه کـړه ، د سـوداګرو لپـاره مـو لازمـي اسـانتیاوي رامنځتـه کـړي او سـوداګر وغـواړي نـو دوی بـه ورتـه کاري مـوده تـر ۲۴ساعتونو هـم وغځـوي. ښـاغلي سـعید همـدا راز وویـل : کومـې جریمـې چـي لـه سـوداګرو څخـه پـه ګمرکونـو کـي اخیسـتل سـوي ، د مسـتوفیتونو پـه امانـت حسـاب کـي ټـولي سـوي. دا چـي اوس جریمـې معـاف دي لـه اصولـو سره بـه بیرتـه سـوداګرو تـه ورکـړل سي.
د عوایـدو لـوی ریاسـت کفیـل او عملیـاتي مرسـتیال معـراج محمـد معـراج وویـل ، چـي ټـول مالیـاتي جرایـم مـو معـاف کـړي ، نـو دغـه معافیـت بایـد ددې وسـیله سي ، تـر څـو ټـول مالیـه ورکوونکـي مالیـه پـر خپـل وخـت ورکـړي او ورسره د سـوداګرۍ د ودې اړیـن فرصتونـه برابـر سي.
د صنعـت او سـوداګرۍ وزیـر نورالدیـن عزیـزي افغانسـتان د نـړۍ پـه کچـه یواځینـي هیـواد یـاد کـړ ، چـي د سـوداګرو د اسـانتیاوو پـه موخـه یـې ټـول مالیـاتي جرایـم معـاف کـړل. نومـوړي زیاتـه کـړه ، چـي مالیـات ولـس تـه د خدمتونـو پـه موخـه اخیسـتل کیـږي او د همـدې کمـو مالیاتـو پـه وسـیله د هیـواد اقتصـادي خوځښـت غښـتلی کیـږي.
د سـوداګرۍ او پانګونـې خونـې مرسـتیال یونـس مهمنـد او د افغانسـتان د صنایعـو او کانونـو خوني رئیس شیرباز کمین زاده هم مالیـه د یـو هیـواد لپـاره خـورا مهمـه وګڼله او د افغانستان اسلامي امـارت د قدرمنـو مشرانـو لـه لـوري د مالیـاتي جرایمو معـاف کول سـتر او سـتاینې وړ ګام وبالـه او داډ یـې څرګنـد کـړ ، چـي د هیواد ټـول سـوداګر د مالیـې د ورکـړې پـه برخـه کي بشـپړ همـکار دي.
بلخـوا د بهرنیـو چـارو وزیـر مولـوي امیـر متقـي هـم خوښـي څرګنـده کـړه او وې ویـل چـي پـه هیـواد کـي د پانګـوني لپـاره اړیـن شرایـط برابـر سـوي او سـوداګر بایـد لـه دغـو فرصتونـو څخـه ګټـه پورتـه کـړي همـدا راز ښـاغلي متقـي پـر صنعـت کارانـو او سـوداګرو د جرایمـو د معافیـت لـه املـه لـه مالیـې وزارت څخـه مننـه وکـړه او دغـه پرېکـړه یـې د سـوداګرو د هڅـوني پـه موخـه نېـک ګام وبالـه.
د مالیـې وزارت اداري معیـن مولـوي حمـد اللـه زاهـد د اسـلام مبـارک دیـن لـه نظـره د رښـتیني سـوداګر ارزښـت بیانولـو تـر څنـګ وویـل ، چـي اسـلامي امـارت پـه ځانګـړې ډول د مالیـې وزارت د سـوداګرو لپـاره د اسـانتیاوو رامنځتـه کولـو او هڅـوني په موخـه لازمـي هڅـي کـړي ، چـي د مالیـاتي جرایمـو معافیت او په ارګ کـي ددې غونـډې جوړول ددې هڅـو ښـکارندویي کـوي.
د چـارو اداري لـوي رئیـس شـیخ نورالحق انور د ملي سـوداګرو او صنعـت کارانـو څخـه ملاتړ د اسـلامي امـارت لوی مسؤلیت وګڼه او دوی تـه د لازمـو اسـانتیاوو برابـرول یـې د دولـت مکلفیت وبلل.
د غونـډې پـه پـای کـي ځینـو خصوصـي شرکتونـو تـه د اصولي فعالیتونـو او پـر وخـت د مالیـې د ورکـړې له امله د مالیـې وزارت د ګمرکونـو او عوایـدو لویـو ریاسـتونو لـه لـوري سـتاینلیکونه ورکړل سـول او غونـډه د ګمرکونـو او عوایـدو معیـن الحـاج مـلا محمـد نـاصر اخنـد لـه لـوري د خیـر دعا پـه لوسـتلو سره پای ته ورسـېده.

## Registration Process of Undocumented Vehicles Accelerates



The Ministries of Finance, Interior, Transport, and Intelligence Department signed a memorandum of understanding to help speed up the registration and customs tax fees of undocumented vehicles, making the process faster than before in all country customs, including Kabul. Each day, 100 vehicles without documentation are processed at Kabul Customs for technical and customs purposes; this number will grow as more vehicles without documentation are registered. The General Directorate of Customs urges all owners of undocumented vehicles to take advantage of this opportunity to register their vehicles and obtain legal documentation as soon as possible. It is important to note that the Islamic Emirate of Afghanistan has taken into account in a big discount for undocumented vehicle customs fees throughout this procedure, which cannot be extended beyond the conclusion. Call 221 for more information.

## The Ministry of Finance Waived Tax Penalties of the Craftsmen and Traders



Tax penalties on industries and traders have been waived by the Ministry of Finance. In a meeting held at Salaam Khana Palace in ARG, the Ministry of Finance announced a waiver of tax penalties for industries and traders and praised those who paid their taxes on time and took the lead in paying their taxes. The meeting of Waiver of Tax Penalties, Supporting Industry and Trade was attended by Mullah Abdul Ghani Baradar, First Deputy Prime Minister of Islamic Emirate of Afghanistan for Economic Affairs, Mawlawi Abdul Salaam Hanafi, Second Deputy Prime Minister of I.E.A. for Administrative Affairs, Alhaj Mullah Hedayatullah Badri, Minister of Finance, Mawlawi Amir Khan Muttaqi, Minister of Foreign Affairs, Nooruddin Azizi, Minister of Industry and Commerce, Shaikh Noorulhaq Anwar, General Director of Administrative Affairs, Alhaj Mullah Mohammad Naser Akhond, Deputy Minister of Finance for Customs and Revenue, Mawlawi Hamdullah Zahid, Deputy Minister of Finance for Administrative Affairs, Zabihullah Mujahed, Spokesperson of I.E.A, Younus Mohamand, First Deputy Chairman of Afghanistan Chamber of Commerce and Industry, Shirbaz Kameen Zada, head of Afghanistan Chamber of Industries and Mines, Haji Bashir Noorzai, National Trader and a number of directors of the mentioned Ministries and National Traders. The Islamic Emirate's Minister of Finance and all high-ranking officials praised industries and traders as the heroes of the country's economy and pledged to uphold their commitment to doing so by providing the facilities entrepreneurs needs, which today's session on the Waiver of the Tax Penalties, is the best example of it. Mr. Badri emphasized that the trader's problems would be resolved through consultation, and that they would collaborate for the country's economic development. The authorities also stated that because taxes fund the national budget, they must be collected transparently in order to avoid putting pressure on traders. And at last, the General Directorates of Revenue and Customs of the Ministry of Finance awarded some private companies a letter of appreciation for their proper actions and prompt tax payments, and they were asked to continue their collaboration and coordination.

### Sediqullah Wafa

افغانسـتان امـن سـوی او رهـبران یـې پـه پـوره ډاډ او مهربانـۍ د بشـپړ ملاتـړ لـه مخـې مـلي سـوداګرو تـه بلنـه ورکـوي، تـر څـو پـه خپـل هیـواد کـي پانګونـه وکـړي.
ملي سـوداګرو او د هیواد شتمنو وګړو! د نـړۍ او هیـواد پـه تاریـخ کـي ستاسـو د پانکـوني لپـاره دومـره غـوره فرصـت نـه وو رامنځتـه سـوی، نـو دا بـه د خپـل هیـواد او ولـس پـه حـق کـي لویـه بي غـوري وي، چـي د پردیـو د ناسـمو تبلیغاتـو لـه املـه د خپـل هیـواد د اقتصـاد پـه پیاوړتیـا کـي برخـه وانخلـئ.

..................

### Arifullah Mansoor

پـه ۲۰۲۲ میـلادي کال کـې مونـږ خپـل وطنـي تولیـد موټـر جـوړ کـړ ان شـاء اللـه که ژونـد وو ۲۰۲۳ میلادي کال بـه مـوږ د خپـل بـرق څښـتنان یـو. بیـا بـه مـوږ هیـڅ چاتـه مجبـور نـه یـو چـي بـرق ترینـه توریـد کـړو. یـا اللـه تـه د افغانسـتان مسـلمانان پـه هـر بخـش کـې خـود کفـاء کـړه.

..................

### Ahmad Yasir

۲۰۲۳ پـه دې کال کـې ډاډه یـم،د ا.ا.ابـه دسـیاسي او اقتصـادي ثبـات پـه برخـه کـې داسـې کوټلي ګامونـه واخلي.سـارۍ بـه یـې د افغانسـتان پـه تاریـخ کـې نـه وي هېـوادوال پوهیـږي چـې د شـلو کلونـو ناخوالـې پـه یـو کال او دوه کـې نـه ختمیـږي. هغـه تعهـد چـې د ا.ا.ا یـې خپـل هېـواد تـه لـرې دا روانـه کـړې بېـړۍ بـه تـر منزلـه رسـوي.

..................

### Shafi Azam

درې شـفټه (۲۴) سـاعته کار روان دی.
د پـلان نه څـو چنده ګړنـدي روان دي.
هـر کارګر/انجنیـر داسـې مخلـص کار کـړي تـه وا وچ یـې د نیکـه کانال دی.
افغانـان هـر کار د جنـون پـه موډ کـړي.
پـام یـې ابـادۍ،د موټرونـو ایجـاد او ټکنالـوژۍ تـه شـوی اوس دی یـې خلـك را ټینګـوي.
خدایـه تـه مـو د ټولـو پـام نېکـو او بخـت بـدار لـرې!